# د اندو - اروپايي ژبو نَسبي څېړنه




څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

د اندو - اروپايي ژبو نَسبي څېړنه

څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

# Genealogical Study of Indo-European Languages

Slavic Languages

Latin Languages

Celtic Languages

Baltic Languages

Germanic Languages

Aric Languages

Isolated Indo-European languages


Associate Prof. Dr. Rafiullah Niazi (Ph.D)



2022

ISBN 978-9936-645-97-4

9 789936 645974

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ

د ژبپوهنې ډیپارټمنټ


# د اندو- اروپايي ژبو نَسبي څېړنه


څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** د اندو- اروپايي ژبو نَسبي څېړنه

**ليکوال:** څېړنوال دکتور رفيع الله نيازی

**سمون:** څېړنپوه دکتور سيد محی الدين هاشمي

**اهتمام:** ر. نيازی

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**لومړی چاپ:** ۱۳۹۸ل.

**دويم چاپ:** ۱۴۰۱ل / ۱۴۴۴هـ.ق/ ۲۰۲۲ز.

**مطبعه:** لايف سټار مطبعه، کابل- افغانستان

ISBN: **۴- ۹۷- ۶۴۵- ۹۹۳٦- ۹۷۸**

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

سرلیک مخګڼه

لومړنۍ خبرې ........................................ أ
د لارښود استاد نظر ........................................ ج
تقریظ ........................................ ط
تقریظ ........................................ ك
تقریظ ........................................ س
سریزه ........................................ ۱

## لومړی څپرکی

## د موضوع شالید

د موضوع په اړه ترسره شوې څېړنې ........................................ ۹
پر موضوع د شوي کار ارزونه ........................................ ۲۶

## دویم څپرکی

## د اندو- اروپايي ژبو نَسبي وېش

ژبکورنۍ څه ته وايي؟ ........................................ ۲۹
ژبنۍ کورنۍ څه ډول منځ ته راغلي دي؟ ........................................ ۳٤
په نړۍ کې څومره ژبې شته؟ ........................................ ۳۸
د نړۍ ټولې ژبې خپل شوې دي، که نه؟ ........................................ ٥٤
د افغانستان کومې ژبې په اندو- اروپايي کورنۍ ورګډېږي؟ ........................................ ٥۷
په یوې ژبکورنۍ کې ژبنۍ څانګې څه ډول رامنځته کېږي؟ ........................................ ٦۳

## درېیم څپرکی

## د اندو- اروپايي ژبو د ویونکو استوګنځایونه

د جرمانیک ژبو د ویونکو استوګنځایونه ........................................ ٦٦
د لاتیني ژبو د ویونکو استوګنځایونه ........................................ ۷۰
د سلتیک ژبو د ویونکو استوګنځایونه ........................................ ۷۲
د سلاویک ژبو د ویونکو استوګنځایونه ........................................ ۷۳
د منفردو اندو- اروپايي ژبو د ویونکو استوګنځایونه ........................................ ۷٦

**د بالتیک ژبو د ویونکو استوګنځایونه ........................................................ ۷۸**

**د آریک ژبو د ویونکو استوګنځایونه ........................................................ ۷۹**


## څلورم څپرکی

## د اندو- اروپایي کورنۍ ژبې


**د اندو- اروپایانو لومړنی آر ټاټوبی ........................................................ ۱۲۶**

**لومړی: جرمانیک ژبې**(**The Germanic Languages**) ........................................ **۱۳٤**

الف) لوېدیځې جرمانیک ژبې ........................................................ ۱۳۵

انګریزي(*English*) ........................................................ ۱۳۵

الماني(*German*) ........................................................ ۱۳۸

هالنډي(*Dutch*) ........................................................ ۱٤۰

یدي(*Yiddish*) ........................................................ ۱٤۲

فلمنګي(*Flemish*) ........................................................ ۱٤۲

افریکانس(*Afrikaans*) ........................................................ ۱٤۳

ب) شمالي سکاندیناوي ژبې ........................................................ ۱٤۳

سوېډني(*Swedish*) ........................................................ ۱٤٤

ډنمارکي(*Danish*) ........................................................ ۱٤۵

ناروېژي(*Norwegian*) ........................................................ ۱٤٦

ایسلنډي(*Icelandic*) ........................................................ ۱٤۷

**دویم: لاتین ژبې**(**The Latin Languages**) ........................................ **۱٤۸**

فرانسوي(*French*) ........................................................ ۱٤۸

اسپانیایي(*Spanish*) ........................................................ ۱۵۰

پرتګالي(*Portuguese*) ........................................................ ۱۵۳

ایټالیایي(*Italian*) ........................................................ ۱۵۵

رومانیایي(*Romanian*) ........................................................ ۱۵٦

**درېیم: سلتیک ژبې**(**The Celtic Languages**) ........................................ **۱۵۸**

الف) ګودالي څانګه ........................................................ ۱۵۹

ایرلنډي(*Irish*) ........................................................ ۱۵۹

سکاټلنډي(*Scottish*) ........................................................ ۱۵۹

منکس(*Manx*) ........................................................ ۱۵۹

ب) برېتاني څانګه ........................................................ ۱٦۰
وېلزي(*Welsh*) ........................................................ ۱٦۰
برېتاني(*Breton*) ........................................................ ۱٦۰
کورنيش(*Cornish*) ........................................................ ۱٦۲
**خلورم: سلاويک ژبې(The Slavic Languages) ........................................................ ۱٦۳**
الف) ختيځې سلاويک ژبې ........................................................ ۱٦٤
روسي(*Russian*) ........................................................ ۱٦٤
اوکرايني(*Ukrainian*) ........................................................ ۱٦٦
بلاروسي(*Belorussian*) ........................................................ ۱٦٦
ب) لوېديځې سلاويک ژبې ........................................................ ۱٦٧
پولنډي(*polish*) ........................................................ ۱٦٧
چکي(*Czech*) ........................................................ ۱٦٨
سلواکي(*Slovak*) ........................................................ ۱٦٩
ج) سوېلي سلاويک ژبې ........................................................ ۱٦٩
بلغاريايي(*Bulgarian*) ........................................................ ۱٦٩
صربي او کرواتي(*Serbo-Croatian*) ........................................................ ۱٧۱
سلوونيايي(*Slovenian*) ........................................................ ۱٧۱
مقدوني(*Macedonian*) ........................................................ ۱٧۲
**پنځم: منفردې اندو- اروپايي ژبې (Isolated Indo-European Languages) ........................................................ ۱٧۳**
يوناني(*Greek*) ........................................................ ۱٧۳
البانيايي(*Albanian*) ........................................................ ۱٧٤
ارمني(*Armenian*) ........................................................ ۱٧٦
رومني(*Romani*) ........................................................ ۱٧٧
**شپږم: بالتيک ژبې(The Balitic Languages) ........................................................ ۱٧٩**
ليتوانيايي(*Lithuanian*) ........................................................ ۱٨۰
لتونيايي(*Latvian*) ........................................................ ۱٨۱
**اووم: آريک ژبې(Aric Languages) ........................................................ ۱٨۲**
**د آريانا جغرافيوي بريدونه ........................................................ ۱٨٤**
الف) اندو-آريايي ژبې(*The Indo-Aryan Languages*) ........................................................ ۱٨٨
۱. لرغونې اندو-آريايي ژبې ........................................................ ۱٩۳

ويدا(*Vedic*) ........ ۱۹۳
سنسکرېت(*Sanskrit*) ........ ۱۹٦
۲. منځنۍ اندو-آريايي ژبې ........ ۱۹۷
پالي(*Pali*) ........ ۱۹۷
پراکرېتونه(*Parakrit*) ........ ۱۹۸
اپ بهرنش ........ ۱۹۹
۳. معاصرې اندو-آريايي ژبې ........ ۲۰۰
هندي(*Hindi*) ........ ۲۰۱
پنجابي(*Punjabi*) ........ ۲۰۳
اُردو(*Urdu*) ........ ۲۰۵
نېپالي(*Nepali*) ........ ۲۱۷
بنګالي(*Bengali*) ........ ۲۱۸
اسامي(*Assamese*) ........ ۲۲۱
ګوجراتي(*Gujrati*) ........ ۲۲۲
بېهاري(*Behari*) ........ ۲۲٦
سندهي(*Sindhi*) ........ ۲۲۷
سينهالي(*Sinhala*) ........ ۲۳۳
راجستاني(*Rajasthani*) ........ ۲۳۷
اوړيه(*Oriya*) ........ ۲۳۸
ب) دارديک ژبې(*Dardic Languages*) ........ ۲٤۰
۱. ختيځې داردي(نورستاني) ژبې ........ ۲٤۲
کتي(*Kati*) ........ ۲٤۲
وايګلي(کلښه الا) (*Waigali*) ........ ۲٤۷
اښکوني(*knuṣA*) ........ ۲٤۸
پرسوني(*Parsuni*) ........ ۲٤۹
۲. مرکزي داردي ژبې ........ ۲۵۰
پشه يي(*Pashai*) ........ ۲۵۰
شوماشتي(*Shumashti*) ........ ۲۵۷
وټه پوري(*Wotapuri*) ........ ۲٦۰
ګوري(*Gawari*) ........ ۲٦۰

تیرايي(*Tirahi*) ........................................ ۲٦۳
کهوار(*khowar*) ........................................ ۲٦٤
کلاشه(*Kalasha*) ........................................ ۲٦٤
دمېلي(*Dameli*) ........................................ ۲٦٥
۳. لوېديځې داردي ژبې ........................................ ۲٦٦
بشکاريک(*Bashkarik*) ........................................ ۲٦٦
توروالي(*Torwali*) ........................................ ۲٦٦
مه يا (*Maiyā*) ........................................ ۲٦۷
شينا(*Shina*) ........................................ ۲٦۸
کشميري(*Kashmiri*) ........................................ ۲۷۰
پالوله(*Palula*) ........................................ ۲۷۲
منکيالي(*Mankiyali*) ........................................ ۲۷٤
بټېري(*Bateri*) ........................................ ۲۷٥
چيليسو(*Chilisso*) ........................................ ۲۷٦
گو ورو(*Gowro*) ........................................ ۲۷٦
کلکوټي(*Kalkoti*) ........................................ ۲۷۷
کوندل شاهي(*Kondal Shahi*) ........................................ ۲۷۷
اوشوجو(*Ushojo*) ........................................ ۲۷۷
ج) آرياني ژبې(*Aryani Languages*) ........................................ ۲۷۹
۱. لرغونې آرياني ژبې ........................................ ۲۸۳
اوېستا(*Avestan*) ........................................ ۲۸۳
ساکي(*Saki*) ........................................ ۲۹۰
ميدي(*Midi*) ........................................ ۲۹۱
لرغونې پارسي (*Old-Persian*) ........................................ ۲۹۲
۲. دارياني ژبو منځنۍ دوره ........................................ ۲۹۳
باختري(*Bakhtari*) ........................................ ۲۹۳
سغدي(*Sughdi*) ........................................ ۲۹٥
خوارزمي(*Khwarzmi*) ........................................ ۲۹٦
سرمتي او الاني(*Sarmatians and Alani*) ........................................ ۲۹۷
پارتي(*Parti*) ........................................ ۲۹۹

منځنۍ پارسي(Middiam-Persian) ........................................ ۳۰۱
۳. د آرياني ژبو کلاسيکه دوره ........................................ ۳۰۳
۴. د آرياني ژبو معاصره دوره ........................................ ۳۰۳
پښتو( Pəṣ to) ........................................ ۳۰٤
پراچي(Parachi) ........................................ ۳۱۵
اورمړي(Ormuri) ........................................ ۳۱۷
آسي(Asi) ........................................ ۳۱۹
يغنابي(Yaghnobi ) ........................................ ۳۲۱
پاميري ژبې(Pamiri Languages) ........................................ ۳۲۲
الف) شغني- روشاني ډله ........................................ ۳۲٤
۱.شغني ياشغناني(SHƏGHNI , SHƏGHNĀNI) ........................................ ۳۲٤
۲. روشاني يا روشني(Roshāni, Roshani) ........................................ ۳۲۵
۳. برتنګي(Bartangi) ........................................ ۳۲٦
۴. رُشُروي(Rushurvi) ........................................ ۳۲٦
۵. سريکولي(Sariquli) ........................................ ۳۲۷
ب) يزغلامي ........................................ ۳۲۷
۱. يزغلامي(Yuzghulami ) ........................................ ۳۲۷
ج) شکاشمي، زېباکي او سنګليچي ډله ........................................ ۳۲۷
۱. شکاشمي(Škošmi) ........................................ ۳۲۷
۲. زېباکي(Zebāki) ........................................ ۳۲۸
۳. سنګليچي(Snaglichi) ........................................ ۳۲۸
۴. واخي(Wakhi ) ........................................ ۳۲۹
۵. منجي(Munji) ........................................ ۳۳۰
دري(Dari ) ........................................ ۳٤۰
تاجيکي(Tajiki ) ........................................ ۳٤۲
پارسي(معاصره پارسي) (Pirsian) ........................................ ۳٤۵
تاتي(Tāti ) ........................................ ۳٤۷
تاليشي(Talyshi ) ........................................ ۳٤۸
ګيلکي( Gilaki ) ........................................ ۳٤۸
مازندراني(Mazandarani) ........................................ ۳٤۹

کُمزاري(*Kumzari*)........................................................ ۳٤۹
سِمناني(*Semnani*) ...................................................... ۳٤۹
کُردي (*Kurdish*)........................................................ ۳٤۹
بلوڅي(*Baluchi*) ........................................................ ۳۵۲


## پنځم څپرکی

## په ژبنيو عناصرو کې د اندو- اروپايي ژبو وېش


**اندو- اروپايي ريښه........................................ ۳٦۱**
**د اندو- اروپايي ژبو غږيز سيستم........................................ ۳٦۳**
**پر کينتم او ساتم د اندو- اروپايي ژبو وېش ........................................ ۳٦۷**
**د اندو- اروپايي ژبو په غږيز سيستم کې نَسبي اړيکې........................................ ۳٦۹**
**په آرياني ژبو کې نَسبي اړيکې........................................ ۳۸٤**


## شپږم څپرکی

## په اندو- اروپايي کورنۍ کې د پښتو ژبې دريځ


**الف) د بهرنيو پوهانو نظريات........................................ ٤۱۲**
**ب) د کورنيو پوهانونظريات........................................ ٤۳۳**
**ج) د نظرياتو ارزونه........................................ ٤۳۸**
پښتو ولې سامي ژبه گڼل شوې ده؟........................................ ٤۳۹
پښتو ولې په هندي ژبو پورې تړل شوې ده؟ ........................................ ٤٤۳
پښتو ولې په آرياني ژبو پورې تړل شوې ده؟ ........................................ ٤٤٦
پښتو ولې د آريايي او آرياني ژبو د اتصال کړۍ گڼل شوې ده؟........................................ ٤٤۸
ايا پښتو په رښتيا هم د دري يا پارسي يو گړدود دی؟ ........................................ ٤۵۰
**پايله ........................................ ٤۵۳**
**وړانديزونه ........................................ ٤۵۷**
**مأخذونه........................................ ٤۵۹**

# لومړنۍ خبرې

دا علمي- څېړنيزه رساله د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د ژبپوهنې ډيپارټمنټ ماته له څېړندوی څخه څېړنوال علمي رتبې ته د ترفیع لپاره ټاکلې وه، چې د علومو اکاډمۍ د علمي شورا له تصويب وروسته مې د ټاکلو مفرداتو په اډانه کې پر ټاکلي وخت بشپړه او په برياليۍ توګه دفاع کړه.

هېڅ علمي څېړنه په ځانګړي ډول په ټولنيزو علومو کې ژبنۍ څېړنې، سل سلنه پوره او کره نه وي، زما دا څېړنه به هم ښايي خپلې ستونزې او نيمګړتیاوې ولري، خو هغه څه چې زه يې د زړه له تله په اخلاص ويلای شم دا دي، چې په دې اثر کې د شاملو موضوعاتو د څېړنې په برخه کې مې تر وسه وسه هڅه کړې، له ګڼو پوهانو او اهل نظرو سره مې موضوعات شريک کړي، له ډېرې مطالعې، مشورو او د بېلابېلو مختلفو نظرونو په رڼا کې مې بالاخره هغه څه ليکلي، چې علمي اصولو او د څېړنې ميتودولوژۍ يې اجازه راکوله.

ښايي ځينې کره کتونکي، اديبان، د ژبپوهنې استادان او څېړونکي ووايي، چې ددې اثر د څلورم څپرکي معلومات په پنځم څپرکي کې د هرې ژبې په څېړنه کې هم راتلای شول، په جلا څپرکي کې يې راوړلو ته اړتيا څه وه؟

دغه ډول احتمالي پوښتنې ته زما ځواب دا دی، چې: اندو-اروپايي ژبکورنۍ ډېر ژبښاخونه او ژبڅانګې لري. د تاريخ په اوږدو کې د ځينو اندو- اروپايي ژبو ويونکي په خپلو آرو مېشتځايونو سربېره نورو سيمو ته کډه شوي، ځينې خو يې داسې سيمو ته تللي، چې په تاريخي او جغرافيوي لحاظ د اندو- اروپايانو له آرو ټاټوبو سره خورا ډېر واټن لري؛ ځينو ژبو د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې پر خپلو آرو سيمو سربېره پېړۍ پېړۍ په نورو سيمو کې فرهنګي واکمني کړې، چې له امله يې د سيمې ډېرې نورې ژبې له ستونې تېرې کړې، نو پکار ده، چې د ژبنيو مسايلو مينه والو ته دا معلومات وي، هغه ژبې چې نن سبا يا څو پېړۍ وړاندې په کومو سيمو کې دود وې، ايا دغه سيمې ددې يا هغې ژبې د ويونکو آرې سيمې وې، که دلته يو مهال نورې اندو- اروپايي ژبې هم دود وې؟

بل دا چې ما د دې اثر په پنځم څپرکي کې د ژبو په اړه يوازې ژبپوهنيزه او لږو ډېر ادبپوهنيزه څېړنه کړې، نه ژبټولنيزه جغرافيوي څېړنه؛ ځکه مو د ژبو د ويونکو آر ټاټوبي، له آرو ټاټوبو نورو سيمو ته لېږدېدنه، د لېږدېدنې لاملونه او اوسني استوګنځايونه په يوه جلا څپرکي کې څېړلي دي.

ددې علمي او څېړنيزې رسالې د څېړنې په بهير کې راسره ډېرو دوستانو او خواخوږو د څېړنيزو آثارو او مأخذونو په برخه کې مرسته کړې، مرستې يې د منننې او درناوي وړ دي، نو همدا يې ځای دی، چې له هر يوه جلا جلا مننه وکړم.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ رئيس ښاغلي ډاکټر عبدالظاهر شکيب، د علومو اکاډمۍ غړو ښاغلي څېړنوال حبيب الله رفيع، ښاغلي ډاکټر خليل الله اورمړ، ښاغلي ډاکټر مجاوراحمد زيار، ښاغلي ډاکټر سيد محی الدين هاشمي، ښاغلي څېړنپوه خيرمحمد حيدري، اغلې څېړنپوهې عاطفې نورستانۍ، ښاغلي څېړنوال خادم احمد حقيقي، ښاغلي څېړنوال عبدالمالک لاموال، د کابل پوهنتون استادانو ښاغلي پوهنمل اسدالله وحيدي او ښاغلي پوهنيار محمود مرهون، د کندهار پوهنتون استادانو ښاغلي مطيع الله روهيال او ښاغلي خليل الله سروري. د نورستاني ژبې ليکوالانو ښاغلي سليمان سون آرا او ښاغلي سميع الله تازه، د پشه يي ژبې ليکوال ښاغلي محمد زمان کلماني، د ګوري ژبې ليکوال ښاغلي محمد نواز حقيقت سائين، ښاغلي اسدالله دانش، په پښتونخوا کې د پېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ استادې اغلې ډاکټرې بشرۍ اکرام، د پېښور پوهنتون د اريا سټډي سنټر غړي ښاغلي ډاکټر محمد علي ديناخېل، د مردان د عبدالولي خان پوهنتون د پښتو څانګې استاد ښاغلي ډاکټر ظفرالله بخشالي، د کويټې د پښتو اکېډمۍ غړي ښاغلي ډاکټر عبدالروف رفيقي، په اسلام آباد کې د قايداعظم پوهنتون استاد ښاغلي ډاکټر حنيف خليل، په هندوستان کې د ال انډيا راډيو د پښتو څانګې پخواني سوپر وايزر ښاغلي روشن لال ملهوتره او د نورو ټولو هغو ښاغليو، چې په يو نه يو ډول يې د دې څېړنې په بهير کې راسره مرسته کړې د زړه له تله مننه کوم، همدا راز له ښاغلي محمد مجتبی همايون څخه هم مننه کوم چې د دې کتاب د دويم چاپ ډيزاين يې وکړ، زه د ټولو د مرستو احسانمند يم، خدای دې ماته هم له دوی سره ددغه ډول مرستې کولو توفيق راکړي.

# د لارښود استاد نظر

د ټولنيزو پديدو ترمنځ د خپلوۍ جوتول او د اصل او منشأ پېژندل يې خورا درنه او ستونزمنه چاره ده. د ژبپوهانو په اند ژبه يوه ټولنيزه پديده ګڼل کېږي. دا پديده د انساني کلتور هغه ستر او اهميت لرونکی ارزښت دی، چې نړيوال کلتور او تاريخ دواړه يې په خپله لمن کې رانغښتي او د وخت په تېرېدو سره په زرګونو ژبې ورڅخه زېږېدلې او راپيدا شوې دي. ژبپوهانو او ژب څېړونکو د ژبو د خپلوۍ او د نسب پېژندلو په برخه کې ډېرې خوارۍ کړي او ډېر زحمتونه يې ګاللي دي.

د افغانستان علومو اکاډمي هغه ستر علمي ارګان دی، چې تل علمي او اکاډميک کارونه سرته رسوي او د څېړنې اړتيا ته په کتو سره د بېلابېلو موضوعاتو په اړه ګروېږنې او څېړنې کوي. پښتو ژبه زموږ د هېواد هغه لرغونې ژبه ده، چې ډېر څنډېن تاريخ لري او د ژبپوهانو د څرګندونو په اساس د اندواروپايي ژبو په پراخه او لويه کورنۍ پورې اړه لري. د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړي څېړندوی رفيع الله نيازي ( د اندواروپايي ژبو نسبي څېړنه ) تر سرليک لاندې علمي- څېړنيز اثر ليکلی او په لاندې ډول يې ترتيب کړی دی:

لومړی څپرکی د موضوع شاليد ته ځانګړی شوی او په ترځ کې يې ځينې هغه اثار په انتقادي ډول هم کتلي، چې د خپل علمي- څېړنيز اثر په چمتو کولو کې يې ګټه ترې اخيستې ده.

د اثر دوهم څپرکی د اندواروپايي ژبو نسبي وېش ته ځانګړی شوی، په پيل کې يې ژبکورنۍ شرحه شوې او په دې باب ډېرې ګټورې علمي خبرې شوې دي. ورسره د ټولو ژبو په برخه کې د يوې منشايي ژبې له پاره هاغه دوه نظرونه هم راوړل شوي، چې A.Chleicher او J.Shmidt وړاندې کړي دي. تر دې وروسته د ژبنۍ کورنۍ د منځته راتګ په مورد ډېرې ګټورې خبرې شوي، د ژبو د ډلبندۍ لارې ښودل شوي او د هغې نظريې يادونه هم شوې، چې د نړۍ ژبې د (مړو او ژوندیو) ژبو تر نامه لاندې په دوو برخو وېشي. په همدې ډول د ژبو د وېش او ډلبندۍ هغه يادونه هم شوې، چې د لويو

وچو او سيمو پر بنسټ په کې ژبې ډلبندي شوې دي. د همدې څپرکي په ترڅ کې د ژبو ډلبندي د صرفي او نحوي جوړښتونو په اساس شوې، چې د يو هجايي، پيوندي او تصريفي ژبو په نامه يادېږي. دا يوه بېلګه ده او دا ترې څرګندېږي، چې د اثر ليکوال په هره برخه کې ژور کار کړی او ځان يې ښه ستړی کړی دی. همدا راز د اندواروپايي کورنۍ ژبې په ډېر تفصيل او روانه ژبه تشرېح شوي، چې لوستل يې په هېڅ وجه بې ګټې نه دي، د همدې څپرکي په اوږدو کې پر هغو ژبو باندې هم ښه څېړنه شوې، چې د اروپا په وچه کې ويل کېږي او د اندواروپايي ژبو د کورنۍ غړې نه دي. دا يادونه هم بايد وکړم، چې ليکوال په دې څپرکي کې د ژبو کورنۍ او په هغوی پورې تړلې ژبې يادې کړې، د خپل توان تر کچې پورې يې د هرې يوې ژبې په باره کې پوره معلومات هم وړاندې کړي دي، زما په نظر د ليکوال دا څېړنه د ډېرې ستاينې وړ ده. د همدې څپرکي په ترڅ کې د نړۍ د ژبو د کورنيو د اړوندو ژبو شمېر هم ښودل شوی او مجموعي شمېر يې ۷۱۰۵ ژبې ښودلې دي. ورسره په افغانستان کې په اندو اروپايي کورنۍ پورې اړوندې او نااړوندې ژبې په ګوته شوي او د ځينو منابعو په استناد يې شمېر تر دېرشو زيات او اووه څلوېښت ښودل شوی دی. د پاملرنې هغه ټکی، چې يادونه يې بايد وشي دا دی چې د ارګوټ (Argot) په نوم د ژبو کومه کورنۍ اصلاً په دې نړۍ کې نشته. ارګوټ اصلاً لاتين الاصله فرانسوي شوې کلمه ده، په دې نوم په منځنيو پېړيو کې په فرانسه کې د سوالګرو او غلو د يوې مصنوعي ژبې ذکر شوی دی، ځکه نو موږ وايو چې نه د ارګوټ ژبنۍ کورنۍ شته او نه يې په افغانستان کې کومه اړونده ژبه. د همدې څپرکي په وروستيو کې په افغانستان کې د اندواروپايي ژبو د کورنۍ د اريک ښاخ د درې واړو څانګو اړوندې ژبې په ګوته شوي او هغه ژبې هم نه دې هېرې شوي، چې په دې څانګو پورې اړه نه لري، خو په افغانستان کې لږوډېر ويونکي لري. په دې ځای کې د هغو ژبو حالت هم ښودل شوی، چې مړې دي او يا هم د کمزورې کېدو پر لور روانې دي.

درېيم څپرکی د اندواروپايي ژبو د ويونکو د استوګنې د ځايونو په نښه کولو سره پيل شوی او په شروع کې يې ويل شوي، چې اندواروپايي ژبې له هندوستان څخه نيولې تر

ایسلنډ پورې سیمو کې ویل کېږي. بشري پرمختګونو اروپایانو ته نورو سیمو ته دکډو کولو شرایط برابر کړي چې په دې سره اندواروپایي ژبې نورو برخو او سیمو ته هم پراخې شوې دي.

له دې وروسته د اندواروپایي کورنۍ په اړوندو ښاخونو پورې د تړلیو ژبو پر استوګنځایونو او جغرافیوي موقعیتونو باندې په روانه ژبه ډېرې معلوماتي خبرې شوي او د هرې ژبې حالت ( رسمي، نیمه رسمي، کاروباري) په واضح ډول ښودل شوی دی.

زما په اند د دې اثر درېیم څپرکی په ډېره دقیقه توګه څېړل شوی او که په اړه یې ډېر لږ څه هم وویل شي، د یوې رسالې بڼه اختیاروي، چې دا کار د یوه نظر له حوصلې څخه وتلی کار دی، زه د اثر د لیکوال دا کار ستایم او یو داسې ابتکار یې بولم، چې د ژبپوهنې د یوه زده کوونکي په توګه زه تر اوسه نه وم ورسره مخامخ شوی.

په څلورم څپرکی کې د اندواروپایي کورنۍ پر ژبو څېړنه شوې ده. په پیل کې ویل شوي، چې دا ژبنۍ کورنۍ تر نورو ستره او پراخه کورنۍ ده او د نړۍ د نږدې نیمایي اوسېدونکو ژبې ورپورې تړلې دي. په دې ځای کې دا هم ویل شوي چې په دې کورنۍ پورې اړوندو ژبو ته اندوجرمانیک هم ویل شوي او دلیل یې دا دی، چې دا ژبې له هندوستان څخه تر جرمني پورې سیمو کې ویل کېدې او وروسته د سیاسي مخالفتونو په وجه د فرانسویانو له خوا د اندواروپایي نوم ورکړل شو. د همدې څپرکي په لړ کې دا هم ویل شوي، چې روسي پوهانو انګېرلې چې د اندواروپایانو لومړنی ار تاټوبی د منځني ختیځ کوردستان او شاو خوا سیمې دي. دوی دلیل راوړي، چې لس زره کاله وړاندې په دغه سیمه کې کرکیله دود شوه، د ښاري ژوند څرکونه پیدا شول... خو د ۱۹۸۰ لسیزې په وروستیو کې د تبلېس د انستیتوت پروفیسور کالین رېنفرو وویل، چې : د اندواروپایي ژبو د کورنۍ زانګو به اسیا او بیا د ترکیې په اناتولیا (اسیایي برخه) کې ټیکاو لرلی وي.

له پورته او نورو څرګندونو څخه ښکاري، چې د اثر لیکوال او محقق د هرې یوې موضوع او جزئیاتو په برخه کې ژور کار کړی او په دې اړه یې د توان تر کچې پورې ژوره څېړنه کړې ده.

د همدې څپرکي په ترڅ کې په اندواروپایي ژبکورنۍ پورې تړلي ښاخونه، په هغو

پورې اړوندې ژبې، ترمنځ یې شته ځانګړنې او توپیرونه په ډېر ښه ډول او روانه ژبه شرحه شوي او د هرې یوې ژبې په اړه پوره معلومات خوندي شوي دي. په پنځم څپرکي کې په ژبنیو عناصرو کې د اندواروپایي ژبو وېش هغه مهمه برخه ده، چې په ترڅ کې یې د څو ژبو په لغتونو کې ګډ ټکي کتل شوي، بیا د پښتو او ترکي ژبو ځینې کلمې پرتله شوي، چې هېڅ ژبنۍ اړیکې ترې نه دي څرګندې شوي، وروسته د ترکي ژبې لغتونه د اندواروپایي ژبو د کورنۍ د بېلابېلو څانګو له اړوندو ژبو سره پرتله شوي، چې هلته هم اندواروپایي ژبې په خپلو کې اړیکې لري، خو له ترکي کلمو سره هېڅ ډول نسبي ژبنۍ اړیکې نه تر سترګو کېږي. ورپسې د اندواروپایي ریښې په بحث کې پر ایتمولوژي، ریښې او مادې باندې رڼا اچول شوې او دا ښودل شوي، چې لرغونې اندواروپایي ریښې څه ډول جوړې شوې دي (په فرضي بڼه جوړې شوې دي). د اندواروپایي ژبو غږیز سیستم بله هغه موضوع ده، چې د لرغونې اندواروپایي ژبې ریښې په کې راوړل شوي او د موضوع د ښې روښانتیا لپاره د پوکورني، رابرت بېکس او څېړنپوه اورمړ الفبې هم په کې ځای پر ځای شوې دي. ورپسې په کېنتم او ساتم باندې د اندواروپایي ژبو د وېش په برخه کې د دواړو ډلو په ژبو کې د ځینو تورو په ابدال او توپیر باندې خبرې شوې دي. ددې څپرکي وروستۍ موضوع د اندواروپایي ژبو په غږیز سیستم کې ژبنۍ اړیکې دي. دلته لومړی په دوه څلوېښتو (۴۲) اندواروپایي ژبو کې له یوه څخه تر لسو پورې د شمېر نومونو تلفظي بڼه پرتله شوې، بیا په څو مهمو اندواروپایي ژبو کې د کورنۍ د غړو نومونه، د اهلي څارویو نومونه او د بدن د ځینو غړو نومونه پرتله شوي او د دې بحث په پای کې د اریاني ژبو په ختیځه او لوېدیځه ډله ژبو کې د d، b، g او č تورو بدلون او تحول کتل شوي او نسبي اړیکې ترې روښانه شوې دي. زه په دې اند یم چې دا اثر به په راتلونکې کې څېړونکو او محصلانو ته ډېر ښه مأخذ وي. د دې علمي- څېړنیز اثر درېیم او څلورم څپرکی ځانته د یوه علمي اثر اهمیت او تومنه لري او په دې څپرکو کې د خوندي شویو مطالبو په برخه کې اوړده علمي او ژوره څېړنه د لوړ علمي ارزښت درلودونکې ده.

ددې اثر شپږم څپرکی په اندواروپایي کورنۍ کې د پښتو ژبې دریځ ته ځانګړی شوی، چې په پیل کې یې د پښتنو د اصل او نسب په باره کې د کورنیو او بهرنیو پوهانو

ځرګندونې له پامه تېرې شوي، چې وروسته یې ځینې برخې په علمي دلایلو سره رد شوي او پر ځای یې د مستندو علمي څېړنو بېلګې په مثالي ډول راوړل شوې دي، په دې منځ کې ددې اثر د لیکوال دریځ زما په نظر د قدر او ستاینې وړ دی.

د اثر لیکوال تر دې وروسته د پښتو ژبې د آر او ریښې په باب د پوهانو نظرونه په څو برخو وېشلي او په هره برخه کې یې خپل نظر په علمي دلایلو سره جوت کړی دی، د اثر لیکوال په هره برخه کې په علمي دلایلو او منطقي موازینو استناد کړی، نو په همدې دلیل د نوموړي نظر او ځرګندونې د قدر وړ دي.

زه نور ددې علمي- څېړنیز اثر په باره کې تر دې ډېرې خبرې نه کوم، خو دا یادونه کوم چې دا اثر تر ډېرې اندازې پورې زموږ د هېواد لوستي وګړي او څېړونکي له اندواروپایي او همدا شان د نړۍ له نورو ژبو سره پوره اشنا کولای شي او دا اهمیت لري چې د یوه لوړ او باوري مأخذ په توګه ترې د څېړنو په ډګر کې ګټه واخیستل شي. زه د اثر منځپانګې ته په کتو خپل نظر په لاندې ډول ځرګندوم :

- ددې علمي اثر ژبه روانه او بې تکلفه ده.
- لوستونکی د لوستلو په وخت کې نه ستړی کوي.
- د اثر لیکوال ادبي ژبه کارولې او د لهجوي اغېزې تر پدل لاندې نه دی راغلی.
- دا اثر د یوه باوري مأخذ صلاحیت لري او په هره برخه کې داسې معلومات په کې خوندي دي، چې په ډېرو مخکنیو مأخذونو کې یا نه تر سترګو کېږي او یا هم په تته بڼه ثبت شوې دي. دا اثر د تدریس په ډګر کې هم د یوه ښه مرستندویه کتاب او مأخذ په ډول د ګټې اخیستنې وړ دی، ځکه چې له باوري منابعو او نویو سرچینو څخه په کې ګټه اخیستل شوې او ډېرې سرچینې یې د اړوندو ژبو د ویونکو محققینو او ژبپوهانو پنځونې دي.
- دا اثر نه یواځې دا چې زموږ په هېواد کې د ژبپوهنې په ورشو کې یوه اړینه زیاتونه ده، بلکې نورو پوهانو او څېړونکو ته یو ښه لارښود هم دی، ځکه نو د افغانستان د علومو اکاډمۍ له مشرتابه مقام څخه هیله کوم، چې ژر تر ژره یې د چاپولو تابیا وکړي.

زما په اند دغه علمي اثر د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړېدو خورا وړ سند دی او

ليکوال يې په حقه د (څېړنوالی) علمي رتبې وړ دی.

زه څېړندوی استاد رفيع الله نيازي ته د لوی خدای(ج) له درباره د داسې نورو پنځونو او روغې ستې غوښتنه کوم. په قلم يې برکت او متې يې پياوړې اوسه!

په پښتني مينه

څېړنپوه مولاجان تڼيوال

د پښتو ژبپوهنې د ډيپارټمنټ آمر

# تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د محترم ریاست د منظورۍ او د ژبو او ادبیاتو مرکز د ۷۱۷/ ۷۱۴، ۳/ ۱۰/ ۱۳۹٦ ګڼه لیک په ذریعه مې د ښاغلي څېړندوی رفیع الله نیازي (د اندو اروپایي ژبو نَسبي څېړنه) تر سرلیک لاندې د علمي- څېړنیزې رسالې متن ترلاسه کړ، رساله مې ولوسته او په اړه یې خپل نظر داسې وړاندې کوم :

په نننۍ نړۍ کې تر شپږ زرو پورې د ژوندیو ژبو او لهجو د موجودیت اټکل شوی، چې د تاریخي او پرتلیزې ژبپوهنې له مخې په اصلي او فرعي ژبکورنیو وېشل شوې دي. ژبپوهان دې نتیجې ته رسېدلي چې دا ټولې ژبې په نسبي لحاظ په څو معدودو ژبکورنیو پورې اړه لري لکه : اندواروپایي، افریقا-آسیایي، چیني- تبتي، فین- اویغوري، نیجر-کنګویي، مالایا- پولنزیایي، التایي، دراویدي، باسکي، جاپاني او د امریکا بومي ژبکورنۍ.

کوم اثر چې ښاغلي رفیع الله نیازي (د اندو- اروپایي ژبو نسبي څېړنه) تر سرلیک لاندې کښلی، د پښتو په ژبپوهنه کې یې نوی خوځښت راوستی دی. که څوک دا اثر په غور او ځیر سره مطالعه کړي، نو ورته څرګنده به شي چې واقعاً د نوموړي د څو کلن زیار، پوهې او حوصلې ښکارندوی دی. په دې علمي- څېړنیزه رساله کې لاندې ځانګړي خصوصیات، نوښتونه، ښېګڼې او مزایاوې نغښتې دي :

۱- دا رساله شپږ فصلونه لري چې د محتوا له مخې یې لومړی فصل د موضوع شالید ته ځانګړی شوی دی، په دې برخه کې د اندواروپایي ژبو د څېړنو بهیر په پام کې نیول شوی او په دغه برخه کې د شوو څېړنو پسمنظر وړاندې شوی دی. په دوهم فصل کې د اندواروپایي ژبو نسبي وېش څېړل شوی دی. په دریم فصل کې د اندواروپایي ژبو د ویونکو مېشتځایونه په ګوته شوي دي. په څلورم فصل کې یې اندواروپایي ژبې په ژبکورنیو، ژبښاخو او ژبڅانګو وېشلې دي. په دې فصل کې یې اندواروپایي ژبکورنۍ په لاندې ژبڅانګو وېشلې ده :

جرمانیک، رومانیک، سلتیک، سلاویک، بالتیک، یوناني، البانیایي،ارمني او آریک.

د خپلولۍ پـه اسـاس د انـدواروپايي کـورنۍ هـره ژبـه يـې مسـتنده پـه خپـل ژبښـاخ او ژبځانګه کې تشريح کړې ده. په پنځم فصل کې يې په ژبنيو عناصرو کې د اندو اروپايي ژبو وېش تر سرليک لاندې، د اندو اروپايي ژبو په غږيز سيستم کې نسبي اړيکې څېړلي دي. د نسبي اړيکو په برخه کې لومړی په ۴۲ اندواروپايي ژبو کې د اعدادو تلفظي بڼـه، د ورځو نومونه، د بدن د غړو نومونه، د خپلوانو نومونه، د اهلي حيواناتو نومونـه او د هغـو د محصولاتو نومونه په پرتليز ډول څېړل شـوي او د رسـالې شـپږم فصـل پـه انـدواروپايي ژبکورنۍ کې د پښتو ژبې دريځ ته ځانګړی شوی دی.

۲- پلان شوې پروژه له غوښتنې سره سمه سر ته رسېدلې او بشپړه شوې ده.

۳- د اثر ژبه ساده، روانه او عام فهمـه ده، د موضـوعاتو تسلسـل تـه پاملرنـه شـوې او ليك نخې په کې بشپړې مراعات شوې دي. د څېړنې له اصولو او غوښتنو سره سم د اثـر په پيل کې عمومي فهرست، سريـزه او وروسـې موضـوعات پـه شـپږو فصـلونو کـې اوډل شوي او بيا د څېړنې پايله او وړانديزونه راوړل شوي دي. د موضوع په څېړنـه او بشـپړتابه کې په معتبرو مأخذونو استناد شوی او له هغو څخه استفاده شوې ده.

د دې ټولو خبرو په پـای کـې د څېړنـدوی رفيـع اللـه نيـازي دا اثـر مثبـت ارزوم او د ورکړل شوې موضوع په څېړنه کې يې بريالی ګڼم. که چېـرې د علمـي ترفيـع نـور اړونـد شرايط يې پوره کړي وي، نو د څېړندوی له علمي رتبې څخه يې د څېړنوال علمي رتبـې ته د ترفيع وړ ګڼم. د علومو اکاډمي مقاماتو ته د دغـه علمـي- څېړنيـز اثـر د چاپېـدو او خپرېـدو وړانـديز کـوم چـې د علـم او پـوهې مينـه وال او پـه ځـانګړې توګـه دپوهنتـون محصلان ترې ګټه واخلي. ښاغلي رفيع الله نيازي تـه د دې علمـي اثـر مبـارکي وايـم او دعلمي څېړنو په ډګر کې ورته د څښتن تعالی له درباره د لازيـاتو بريـاوو هيلـه کـوم، پـه قلم او قدم يې برکت شه.

په درنښت

څېړنپوه دکتور خليل الله اورمړ

د لرغونو ژبو د انستيتوټ آمر

# تقريظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د رياست د محترم مقام د منظورۍ او د ژبو او ادبياتو مرکز د ۷۱۷/ ۷۱۴ /۳ /۱۰/ ۱۳۹۶ ګڼه ليک پر اساس (د اندو اروپايي ژبو نسبي څېړنه) تر سر ليک لاندې د ښاغلي څېړندوی رفيع الله نيازي د علمي څېړنيزې رسالې متن مې تر لاسه کړ، چې په اړه يې خپل نظر داسې څرګندوم:

ژبه چې د بشر له لومړنيو ايجاداتو څخه ګڼل کېږي، د بشر له تاريخ سره يو ځای او همزولې پيدا شوې ده، همدا ژبه ده چې انسان يې له نورو حيواناتو څخه غوره او بهتر ګرځولی دی. کله چې د انسانانو شمېر د ځمکې پرمخ ډېرېده، نو دوی مجبور وو چې له يو ځای څخه بل ته مهاجرت وکړي، د همدغو مهاجرتونو پر اساس د انسانانو بېلابېلې ټولنې او ژبې منځ ته راغلې، د اندو اروپايي ژبو کورنۍ له همدغو ژبو څخه يوه لويه ژبکورنۍ ده، چې زموږ د هېواد ډېرې ژبې هم له همدې کورنۍ سره تړاو لري، ټولې اندو اروپايي ژبې له يوې ګډې مشخصې مورينې څخه زېږېدلې، چې يوه کورنۍ جوړوي، په ژبپوهنه کې د ژبو دغه ډول اړيکو ته نسبي اړيکې وايي.

نو له همدې امله د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت دا علمي پروژه ښاغلي څېړندوی رفيع الله نيازي ته د څېړنې لپاره وسپارله.

ښاغلي نيازي دا څېړنيزه رساله په شپږو څپرکو کې، چې پايله، وړانديزونه او د مأخذونو فهرست يې په ترتيب سره راوړي، بشپړه کړې ده.

ليکوال په سريزه کې د موضوع پر اهميت او مبرميت باندې په هر اړخيزه توګه غږېدلی او اړين موضوعات يې په ګوته کړي دي.

په لومړي څپرکي کې يې د موضوع پر شاليد باندې پوره رڼا اچولې او د هغو ټولو اثارو پېژندنه يې په انتقادي ډول سره وړاندې کړې، چې د اثر په بشپړولو کې يې ورڅخه ګټه پورته کړې ده.

د دې اثر دوهم څپرکی د اندو اروپايي ژبو نسبي وېش ته ځانګړی شوی دی. په دې

څپرکي کې د نړۍ د ژبو د شمېر په اړه اوږده څېړنه راغلې او دا په کې روښانه شوې، چې د نړۍ پنځه نوي فيصده اوسېدونکي له څو زره ژبو څخه د سلو ژبو په شاوخوا کې ليکل کوي، په دې څپرکي کې د نړۍ د ژبو ټولې کورنۍ او اړوندې ژبې په لنډ ډول معرفي شوې دي.

په درېيم څپرکي کې د اندو اروپايي ژبو د ويونکو استوګنځايونه په تفصيل سره راغلي او له هند څخه د اروپا تر ايسلنډ پورې د ټولو اندو اروپايي ژبو د ويونکو ځايونه په کې څېړل شوي دي. انګليسي ژبه چې له دغو ژبو څخه يوه مهمه ژبه ده، د نړۍ د څلوېښتو هېوادونو رسمي ژبه پېژندل شوې ده.

د دې اثر څلورم څپرکی تر ټولو لوی دی، چې د اندو اروپايي ژبو کورنۍ ته ځانګړی شوی دی. په دې څپرکي کې له هندوستان څخه نيولې د اروپا تر ځينو برخو پورې د مېشتو وګړو ژبې څېړل شوې دي.

د اندو اروپايي ژبو کورنۍ تر ټولو پراخه او ستره ده چې د نړۍ د نږدې نيمو استوګنو مورنۍ ژبې ور پورې تړلې دي. د اروپا، امريکا او استراليا اوسېدونکي له يوې مخې د دې ژبکورنۍ په ژبو خبرې کوي، د اسيا اکثريت وګړي او ورسره د افريقا هم ډېر شمېر اوسېدونکي پرې غږيږي. د دغو ژبو په لړۍ کې يو مهم ښاخ د آريک ژبو دی، چې پوره څېړنه يې په همدې څپرکي کې وړاندې شوې ده.

په پنځم څپرکي کې په ژبنيو عناصرو کې د اندو اروپايي ژبو د وېش په سلسله کې د ترکي ژبې لغتونه د اندو اروپايي ژبو د کورنۍ د بېلابېلو څانګو له اړوندو ژبو سره پرتله شوي چې هېڅ ډول اړيکې ورسره نه لري. د اندو اروپايي ژبو په غږيز سيستم کې د ژبنيو اړيکو په اړه لومړی په (۴۲) اندو اروپايي ژبو کې له يو څخه تر لسو پورې د شمېر نومونو تلفظي بڼې او بيا په مهمو اندو اروپايي ژبو کې د کورنۍ د غړو نومونه، د اهلي څارويو نومونه او د بدن د ځينو غړو نومونه پرتله شوي دي.

د اثر شپږم څپرکی په اندو اروپايي کورنۍ کې د پښتو ژبې دريځ ته

ځانګړی شوی، چې د تاریخ په اوږدو کې د پښتنو د اصل او نسب په اړه د کورنیو او بهرنیو لیکوالانو، ژبپوهانو او تاریخپوهانو له خوا بېلابېل نظریات په کې وړاندې شوي دي.

ښاغلي نیازي دا نظریات د څېړنې له اصولو سره سم په انتقادي ډول څېړلي او د پښتنو په اړه یې ټول ناسم افسانوي نظریات په مستندو او پخو دلایلو سره رد کړي دي. په لنډه توګه ویلای شو، چې په دې څېړنیز اثر کې د اندو اروپایي ژبو نسبي وېش، د دې ژبو د ویونکو مېشتځایونه، په دې کورنۍ کې د اړوندو ښاخونو ټولې ژبې او بیا په دې کورنۍ کې د پښتو ژبې د دریځ په اړه د کورنیو او بهرنیو پوهانو نظریات په انتقادي ډول څېړل شوي دي.

د څېړنې په بهیر کې له دوه ډوله څېړنې کتابتوني او ساحوي څخه کار اخیستل شوی، خو تر ډېره بریده یې بنسټ پر کتابتوني څېړنې ولاړ دی. همدارنګه د داردي ژبو په اړه یې ځینې معلومات د اړوندو سیمو له وګړو څخه په شفاهي توګه را نقل کړي، چې دا برخه یې له ساحوي څېړنې سره اړخ لګوي. څرنګه چې د ژبو نسبي څېړنه یوه تاریخي موضوع ده، نو پر دې اساس ویلای شو، چې دا څېړنیز اثر د تاریخي او تشرېحي میتودونو په اډانه کې لیکل شوی او له مأخذونو څخه د ګټې اخیستې په برخه کې یې هم د کره کتنې اصول له پامه نه دي غورځولي.

ښاغلي نیازي د څېړنې د نویو اصولو په رڼا کې موضوعات راساً پیل کړي او له بې اړتیا خبرو او تشریحاتو څخه یې ډډه کړې ده. د لیکنې ژبه یې ساده او روانه ده او د لیکدود قواعد یې ټول مراعات کړي دي.

د پورتنیو څرګندونو په رڼا کې، زه دا څېړنیز اثر مثبت ارزوم او لیکوال یې د څېړندوی له علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي رتبې ته د لوړېدا مستحق بولم. له دې امله چې په پښتو ژبه کې تر اوسه داسې اثر نه لیکل شوی او نه ژباړل شوی چې ټولې اندو اروپایي ژبې په کې څېړل شوې وي، نو زه وړاندیز کوم چې دا اثر باید ژر تر ژره چاپ شي، تر څو ګټه یې عامه او هر څوک

ورڅخه استفاده وکړي.

په پای کې ښاغلي څېړندوی رفيع الله نيازي ته د الله پاک له درباره د لازياتو برياوو غوښتنه کوم.

په درنښت

څېړنوال زکريا ملاتړ

د پښتو ژبې او ادبياتو د انستيتوت آمر

# تقريظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز د ۱۳۹٦ کال د مرغومي میاشتې د ۱۰ نېټې د ۷۱۷ پر ۷۱۴ ګڼه لیک په ملتیا، د دې مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو د انستیتوت د علمي غړي څېړندوی رفیع الله نیازي د څېړنوالۍ د علمي رتبې د ترفیع علمي- څېړنیز اثر چې (د اندواروپایي ژبو نَسبي څېړنه) تر سرلیک لاندې یې د څېړنپوه مولاجان تڼیوال په لارښوونه بشپړ کړی، ما ته د تقریظ لپاره را استول شوی، چې په اړه یې په لاندې کرښو کې خپل نظر داسې وړاندې کوم:

دغه اثر سریزه، شپږ څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذو فهرست لري. د رسالې په سریزه کې د څېړنې له میتود سره سم د څېړنیزې موضوع پر موخه او مبرمیت، د څېړنې پر ډول او میتود او پر پخوانیو څېړنو باندې د دې څېړنې پر برتریو او مزایاوو بحث شوی، ورپسې اثر لنډ معرفي او منځپانګې ته یې اشارې شوې دي.

د رسالې لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی دی. د موضوع له شالید سره په ارتباط کې د پښتو، دري، اردو، انګلیسي- او روسي آثار چې څېړونکي ته مهم ښکاره شوي، معرفي شوي دي. د مستقلو آثارو فهرستونه یې راوړي او له کوم اثر څخه یې چې استفاده کړې، د هغه یادونه یې کړې او همدارنګه یې د دغو آثارو نیمګړتیاوو ته ځای ځای کره کتنیزې اشارې هم کړې دي. د آثارو د معرفي په پای کې یې په عمومي او مجمل ډول د دغو آثارو ارزونه کړې، یعنې ارزونه یې په عمومي توګه په اروپایي ژبو، اردو، دري او پښتو ژبو باندې د لیکل شوو آثارو پربنسټ کړې، مشخص یې د ځینو آثارو نومونه هم اخیستي او د زمانې له مخې یې هم د ځینو آثارو روایتي معلوماتو ته د نقد اشاره کړې ده. د دې اثر د دوهم څپرکي عمومي سرلیک د اندو اروپایي ژبو نَسبي وېش دی چې په کې د ژبو د کورنۍ په اړه شجره یي نظریه او څپه ییزه نظریه او د ژبکورنۍ مفهوم تشریح، توضیح او څېړل شوی دی. ورپسې د ژبکورنۍ د منځ ته راتګ په اړه بېلابېل نظریات راوړل شوي دي. همدارنګه د صرفي او نحوي جوړښت پر بنسټ د نړۍ د ژبو د ډلبندۍ نظریات راوړل شوي او دا هم ویل شوي چې ژبپوهانو د نړۍ اوسنۍ

ژبې د ريښې، تورو، کلمو، گرامري ورته والي او نورو ځانگړنو پربنسټ په بېلابېلو کورنيو کې ډلبندي کړې دي.

په درېيم څپرکي کې د اندو اروپايي ژبو، يعنې د جرمانيک، لاتيني، سلتيک، سلاويک، بالتيک او د آريک ژبو د ويونکو استوگنځايونه معرفي او ښودل شوي دي. په څلورم څپرکي کې د اندو اروپايي ژبو کورنۍ لنډه معرفي شوې، د اندو اروپايانو پر لومړني آر ټاټوبي او د اندو اروپايي واحدې ژبې د وېش او انقسام په اړه هم بحث او څېړنه شوې او د پوهانو مختلف نظريات راوړل شوي او شرحه شوي او په پای کې څېړونکي په دې اړه خپل نظر هم وړاندې کړی دی. همدارنگه له اندو اروپايي مورينې ژبې څخه راجلا شوي ژبښاخونه معرفي او د هغو ادبياتو ته په خپل خپل ځای کې لنډ، اجمالي او ځغلند نظر شوی دی. په پنځم څپرکي کې په ژبنيو عناصرو کې د اندو اروپايي ژبو وېش تر سرليک لاندې اندو اروپايي ريښه او ماده څېړل شوي، په کنتم او ساتم باندې د اندو اروپايي ژبو پر وېش بحث شوی او د اندو اروپايي ژبو په غږيز سيستم کې نسبي اړيکې داسې څېړل شوي، چې لومړی په ۴۲ اندو اروپايي ژبو کې د اعدادو تلفظي بڼه څېړل شوې، بيا د آريک، بالتيک، سلاويک، جرمانيک او...ژبښاخونو په يوه يوه ژبه کې د ورځو، د بدن د غړو، د اقاربو، د ځينو اهلي حيواناتو نومونه او د هغو د محصولاتو نومونه په پرتليز ډول څېړل شوي دي. تر دې وروسته د آرياني ژبو د نسبي اړيکو د څېړلو په لړ کې په ختيځو او لوېديځو آرياني ژبو کې د (ب، د، غ، چ) غږونه پرتليز څېړل شوي دي.

د اتم شپږم څپرکی په اندو اروپايي کورنۍ کې د پښتو ژبې دريځ ته ځانگړی شوی دی. لومړی د پښتنو پر اصل و نسب بحث شوی او څېړونکي په علمي دلايلو سره ثابته کړې چې پښتانه آريايي توکمه قوم دی او له بل هېڅ توکم سره نسبي او نژادي اړيکې نه لري. بيا د پښتو ژبې په اړه د بهرنيو او کورنيو پوهانو نظريات راوړل شوي، شرحه او ارزول شوي دي. ورپسې ځينو پوښتنو؛ لکه: پښتو ولې سامي ژبه شمېرل شوې ده؟ پښتو ولې په هندي ژبو پورې تړل شوې ده؟ پښتو ولې په آرياني ژبو پورې تړل شوې ده؟ پښتو ولې د هندي او آرياني ژبو ترمنځ د اتصال کړۍ گڼل شوې ده؟ آيا پښتو په

رښتیا هم د دري یا فارسي ګرډود دی؟ ته څوابونه ویل شوي او د دغـو موضـوعاتو پـه رد او یا تائید کې علمي دلایل وړاندې شوي دي.

دغه اثر په یوې غـوره پـایلې او وړانـدیزونو پـای تـه رسـېدلی، ورپسـې د هغـو مأخـذو فهرست راغلی چې څېړونکي ورڅخه د دې اثر په کښلو کې ګټه اخیستې ده.

د پورتنیو یادونو په ترڅ کې خپل نظر داسې رالنډوم:

- لیکوال د بېلابېلو ژبـو لـه معتـبرو آثـارو څخـه پـه اسـتفادې دغـه اثـر بشـپړ کړی، له هر مأخذه یې چې استفاده کړې، د مأخـذ ښـودنې لـه اصـولو سره سـم یې ښودلی دی.

- د افــادې ژبــه یــې پیــاوړې، صریحــه، روانــه او پېچلتیــا پــه کــې نــه تــر سترګو کېږي.

- د موضـوعاتو تسلسـل یـې مراعـات کـړی او د هـرې موضـوع پـه تحلیـل او تحقیق کې یې له پاخه او علمي منطق څخه کار اخیستی دی.

- د لیکوالۍ اصول او لیک نخې یې تر ډېرې اندازې پورې په پام کې نیـولي او پر خپل خپل ځای یې کارولي دي.

- لیکـوال لـه تـاریخي او تشر۔یحي میتـود څخـه کـار اخیسـتی، مسـایل یـې منتقدانه تحلیل او پرتله کړي دي.

- د اثر په هر څپرکي او بېلابېلو برخو کـې لیکـوال د تشر۔یحاتو پـه تـرڅ کـې خپـل نظـر هـم څرګنـد کـړی، چـې دا کـار یـې د تحقیـق د اصـولو لـه مخـې د ستاینې وړ دی.

- د اثر په کښلو کې معیاري لیکدود په پام کې نیول شوی دی.

- لنډه دا چې دغه اثر له منل شوو اکاډمیکو معیـارونو سره سـم لیکـل شـوی او د لیکوال زیار د قدر وړ دی.

د پورتنیو او دې ته ورته ښېګڼو په درلودلو سره دغه علمي- څېړنیز اثر مثبت ارزوم، کـه چېـرې لیکـوال د علمـي ترفیـع نـور اړونـد شرایـط بشـپړ کـړي وي، د څېړندوی له علمي رتبې څخه یې د څېړنوال علمي رتبې ته د لوړېدو وړ ګـڼم او

د نورو علمي- څېړنيزو او فرهنګي چارو په تر سره کولو کې ورته د لوی خدای جل جلاله له درباره د لازیاتو بریالیتوبونو غوښتنه کوم. په پای کې د افغانستان د علومو اکادمي ته وړاندیز کوم چې د عامې استفادې لپاره، د دغه اثر د چاپ زمینه برابره کړي.

په درنښت

څېړنوال وجیه الله شپون

د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز رئیس

# سریزه

د انسان له  پیدایښته د انساني اړتیاوو، غوښتنو، انګرېنو او یو بل ته د فکر څرګندولو او اړیکو ټینګولو لپاره له انسانانو سره ژبه هم مله وه. د انسانانو د لومړنۍ ژبې د ځانګړنو په اړه به څه ویل ډېر ګران وي، ځکه چې لومړنیو انسانانو یوازې خبرې کړې، د ژبې یې هېڅ نخې نشته او لیک هم ډېر وروسته رامنځ ته شوی دی. د انساني اړتیاوو د پوره کولو او له طبیعي پېښو څخه د ژغورنې په موخه لومړني انسانان تل له یوې سیمې څخه بلې ته د کوچ په حال کې ول. انساني تاریخ پر دې ګواه دی، چې لومړنیو انسانانو د نړۍ بېلابېلو سیمو ته ډله ییز هجرتونه کړي او د همدغو ډله ییزو مهاجرتونو له امله د انسانانو لومړۍ ژبه پرخپل حال نه ده پاتې، هرې سیمې ته په ورتګ، ورو ورو لومړی پر ګړدودونو اوښتې او بیا د مهال په تېرېدو له هر ګړدوده جلا جلا ژبې جوړې شوې، وروسته د نورو انساني کړنوالیو له امله له هرې ژبې نورې ژبې زېږېدلې، چې نن سبا یې شمېر زرګونو ته رسېږي.

د نړۍ د ټولو ژبو شمېر هم نه دی څرګند، خو په بېلابېلو څېړنو کې له درېو څخه تر اووه زرو پورې د ژبو یادونه شوې ده. د ژبو کره شمېر ځکه نه دی څرګند، چې یو خو د انساني تاریخ په اوږدو کې د ټولو  ژبو په اړه معلومات نشته، ځینې ژبې د تاریخ په یوه دوره کې ژوندۍ وې، خو وروسته مړې شوې، چې د همدغو مړو ژبو شمېر هم نه دی څرګند. د نړۍ د ځینو  ژبو ګړدودنه هم د ژبو په کتار کې شمېرل شوي او دا ډېره ګرانه هم ده، چې د نړۍ د هرې سیمې د ژبو کره شمېر دې معلوم شي. د ساري په توګه له کشمیر څخه تر پامیر پورې په یوه کوچنۍ سیمه کې په لسګونو  ژبو او ګړدودونو خبرې کېږي؛ نږدې دوه پېړۍ وشوې چې ژبپوهان ددغې سیمې د ژبو په اړه څېړنې کوي، خو تر اوسه ددې سیمې د داردي او پامیري ژبو کره شمېر جوت نه شو، په ځینو څېړنو کې یوه ژبه د ژبې او په ځینو نورو څېړنو کې بیا هماغه ژبه د یوه ګړدود په توګه معرفي شوې ده. همدغه ډول د نړۍ په ځینو نورو سیمو کې هم د ژبو او ګړدودونو بریدونه سم نه دي په ګوته شوي.

د انسان د تکاملي تاريخ په اوږدو کې چې له يوې ژبې څخه نورې ژبې زېږېدلي، نو د مورينې ژبې ځينې ځانګړنې ورته په ميراث پاتې، چې د همدغو ګډو ځانګړنو له امله نن سبا ځينې ژبې په خپلو کې نَسبي اړيکې لري. د همدغو نَسبي يا ارثي اړيکو پر بنسټ له يوې مورينې ژبې (Proto-Language) زېږېدلې ژبې، په خپلو کې په کلمو، صرفي او نحوي قواعدو کې ورته والی، نږدېوالی او خپلوي لري.

د اتلسمې ميلادي پېړۍ په اوږدو کې د لومړي ځل لپاره د سنسکرېټ، لاتين او يوناني ژبو له پرتلې څخه د ژبو ترمنځ د نَسبي اړيکو درلودو او د خپلوۍ له رازه پرده پورته شوه؛ په ژبنيو مسايلو او څېړنو کې دغې نظريې د نوي ژبپوهنې د بنسټ پر ايښودو سربېره د اندو- اروپايي ژبکورنۍ (Indo-European Languages Family) بنسټ هم کېښود؛ چې بيا نورو پوهانو هم متې راونغښتې او د سنسکرېټ، يوناني، لاتين او د نړۍ د نورو ژبو ترمنځ يې پرتليزې څېړنې پيل کړې.

د دغو څېړنو په پايله کې د نَسبي اړيکو پر بنسټ د نړۍ ډېرې ژبې په بېلابېلو کورنيو کې ډلبندي شوې، خو لا هم داسې ژبې شته چې ژبپوهان يې په يوې کورنۍ پورې په ټړلو نه دي توانېدلي.

تر دې دمه په نړۍ کې تر سلو ډېرې ژبکورنۍ پېژندل شوي، خو اندو-اروپايي (Indo-European Languages Family) تر ټولو پراخه او ستره کورنۍ ده، چې د نړۍ د نږدې نيمو استوګنو وګړيو مورنۍ ژبې ورپورې ټړلې دي، د اروپا، امريکا او استرليا ټول اوسېدونکي او د اسيا او افريقا ګڼ شمېر وګړي پرې خبرې کوي.

په دې ژبکورنۍ کې اکثره هغه ژبې شاملې دي، چې د علمي او ادبي زېرمو درلودو له امله د نړۍ ډېرې مهمې ژبې ګڼل کېږي او د ويونکو د شمېر له امله هم دا د نړۍ تر ټولو ستره ژبکورنۍ ده.

د سيمې او افغانستان ډېرې ژبې په ځانګړې ډول پښتو هم په همدې کورنۍ پورې ټړلې ده، نو ددې کورنۍ دغه ستروالي، نړيوال جغرافيوي، ادبي او علمي ارزښت ته په کتو "د اندو- اروپايي ژبو نَسبي څېړنه" تر سرليک لاندې دا څېړنيزه موضوع په شپږو څپرکيو کې بشپړه شوې ده.

په لومړي څپرکي، یعنې د موضوع په شالید کې هغه اثار په تنقیدي ډول معرفي شوي، چې د اندو- اروپایي ژبو په اړه پکې څېړنه شوې ده.

په دویم څپرکي کې پر ژبنۍ کورنۍ، د نړۍ پر ژبو، په یوې ژبنۍ کورنۍ کې ژبنۍ څانګې څه ډول رامنځته کېږي او د افغانستان کومې ژبې په اندو-اروپایي ژبکورنۍ ورګډېږي، بحث او څېړنه شوې ده.

په درېیم څپرکي کې د اندو-اروپایي ژبکورنۍ د ویونکو لرغوني آر ټاټوبي، مېشتځایونه او اوسني استوګنځایونه په ګوته شوي دي.

په څلورم څپرکي کې د اندو-اروپایي ژبکورنۍ د هر ژبښاخ او هرې څانګې د ژبو ډلبندي راغلې او هره ژبه په تفصیل سره څېړل شوې ده.

په پنځم څپرکي کې په ژبنیو عناصرو کې د اندو-اروپایي ژبو د وېش مسله څېړل شوې او ترڅنګ یې د اندو-اروپایي ژبو تر منځ نَسبي اړیکې له بېلګو سره په پرتلیز ډول روښانه شوي دي.

په شپږم څپرکي کې د باندنیو او کورنیو پوهانو د نظریاتو په رڼا کې په اندو- اروپایي کورنۍ کې د پښتو ژبې دریځ څېړل شوی او بیا د پوهانو نظریات ارزول شوي هم دي.

**د څېړنې موخه**

ددې اثر د لومړي څپرکي (شالید) له لوستلو به لوستونکو ته روښانه شي، چې د نړۍ په نورو ژبو او د پښتو ژبې په سیمه ییزو سیالو ژبو کې د دې موضوع په اړه ډېرې څېړنې او لیکنې شوي، خو پښتو ژبه په دې برخه کې ډېره خواره ده.

کومو پښتنو لیکوالو چې په دې برخه کې تر ما وړاندې لیکنې او څېړنې کړي، د هغوی هڅې د منني او ستایلو وړ دي، څېړنې یې پر خپل ځای او مهال ارزښتمنې او ګټورې وې، خو بشپړې نه دي؛ ځکه چې په څېړنه کې نه وروستۍ خبره وي او نه د موضوعاتو په اړه څېړنې پای ته رسېږي، په ځانګړي ډول ټولنیز مسایل، چې د تاریخي، فرهنګي او اقتصادي لاملونو له امله تل د بدلون په حال کې وي، نو همدغه ټکي ته په کتو په پښتو ژبه کې د اندو-اروپایي ژبکورنۍ د ټولو ژبو څېړنې ته ډېره اړتیا لیدل کېده.

په پښتو ژبپوهنه کې د پام وړ کار نه دی شوی، د پښتو گرامر او ځينو نورو اړخونو په برخه کې د څو تنو ژبپوهانو له ځينو څېړنو پرته نور ډېر څه نه لري، په کابل پوهنتون کې مو د ماسترۍ په دوره کې د لرغونو ژبو په نامه يو مضمون درلود، د هغه مضمون د موضوعاتو په اړه د مرستندوی درسي اثر په توگه په پښتو ژبه کې د اروانښاد دوست شينواري له اثر "د افغانستان ژبې او توکمونه" پرته بل هېڅ داسې اثر نه و، چې گټه مو ترې اخيستې وای، نو همدغې اړتيا ته په کتو د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيټوټ د ژبپوهنې ډيپارټمنټ "د اندو- اروپايي ژبو نَسبي څېړنه" موضوع د يوې علمي- څېړنيزې پروژې په توگه ماته وټاکله، چې څېړنه ورباندې وکړم او ددغې تشې په ډکولو کې څه کار وکړای شم.

## د څېړنې مبرميت او اهميت

په پښتو ژبه د اندو- اروپايي ژبو په برخه کې ډېرې څېړنې او ليکنې نه دي شوي؛ ددې کورنۍ د (آرياني) او (دارديک) څانگو ځينې ژبې لږ و ډېر څېړل شوي، خو په بشپړ ډول د دغو څانگو ټولې ژبې نه دي څېړل شوي، يوازې پر ځينو ژبو څه نا څه کار شوی، نو دا څېړنه د پخوانيو هغو پر تله دا توپيرونه او مزاياوې لري:

په دې اثر کې روښانه شوې، چې ژبکورنۍ (Language Family) څه ته وايي او د نړۍ د ژبو کورنۍ څه ډول منځ ته راغلې دي؟ د اندو-اروپايي ژبکورنۍ تاريخي شاليد څېړل شوی او پر دې هم بحث شوی، چې په نړۍ کې څومره ژبې شته او ايا د نړۍ ټولې ژبې تر اوسه څېړل شوي، که نه؟ ترڅنگ يې دا هم څېړل شوي، چې په يوه ژبکورنۍ کې ژبنۍ څانگې ولې او څه ډول رامنځ ته شوې دي؟

پر دې هم رڼا اچول شوې، چې د اندو- اروپايي ژبو د ويونکو آر ټاټوبي او مېشتځايونه کوم دي، دا ژبې لومړی په کومه سيمه کې رامنځ ته شوې او د مهال په تېرېدو اوس په کومو نويو جغرافيوي سيمو کې دود دي.

د دې څېړنې تر ټولو مهمه او ارزښتمنه برخه دا ده، چې د لومړي ځل لپاره په پښتو ژبه کې د اندو-اروپايي ژبکورنۍ اړوند ټول ژبښاخونه، لکه: جرمانيک، لاتين، سلتيک، سلاويک، بالتيک، منفردې اندو- اروپايي ژبې، آريک او د دغو ژبښاخونو د اړوندو څانگو

ژبې داسې څېړل شوي، چې تر دې وړاندې نه وې څېړل شوې. همدا راز په عملي بېلګو کې د اندو- اروپايي ژبو او په اندو- اروپايي ژبکورنۍ کې د ارياني ژبو تر منځ نَسبي اړيکې هم څېړل شوې دي.

ددې اثر په پای کې د کورنيو او باندنيو پوهانو د نظرياتو په رڼا کې د پښتنو د آر او نسب او د پښتو ژبې د اصل او ريښې موضوع هم په تفصيل سره څېړل شوې، چې په اندو- اروپايي ژبکورنۍ کې ورسره د پښتو ژبې دريځ هم څرګند شوی دی.

**د څېړنې ډول او ميتود**

ددې علمي- څېړنيز اثر د ليکلو لپاره له دوه ډوله څېړنې څخه کار اخيستل شوی: کتابتوني او ساحوي، خو تر ډېره بريده ددې څېړنې بنسټ پر کتابتوني څېړنه ولاړ دی؛ ساحوي څېړنه د اندو-اروپايي ژبو د يوې څنګزنې برخې، يعنې د (دارديک) څانګې د ځينو ژبو په اړه شوې، چې د سوات، دير، نورستان، کونړ او لغمان له ځينو وګړيو څخه د ځينو داردي ژبو په اړه معلومات اخيستل شوي دي.

د ژبو نَسبي څېړنه يوه تاريخي موضوع ده، نو دا علمي- څېړنيزه رساله هم د تاريخي- تشرېحي ميتود يا په بل عبارت د تاريخي او تشرېحي ميتودونو په اډانه کې بشپړه شوې، چې د ژبو تاريخي بهير پکې څېړل شوی او د اړتيا پر مهال، هم ژبې او هم نور موضوعات د تشرېحي مېتود پر بنسټ تشرېح شوي دي.

**تاريخي ميتود:** هغه مېتود ته وايي، چې د پېښو د پېښېدو لاملونه، بهير او پايله د مستندو او باوري معلوماتو په واسطه څرګندوي او د پېښو ځانګړنې، له نورو پېښو سره يې اړيکې، ټاکونکي لاملونه او اوسنی حالت يې بيانوي.

**تشرېحي ميتود:** هغه مېتود دی، چې هره ټاکلې موضوع د خپلو ځانګړنو په اډانه کې تشرېح کوي.

په کتابتوني څېړنه کې د موضوعاتو د تفسير او توضېح لپاره له غورو او لومړيو لاس مأخذونو څخه ګټه اخيستل شوې، خو تر کومه ځايه چې زما علم او عقل کار کاوه له مأخذونو څخه د ګټې اخيستنې پر مهال مې د کره کتنې اصول هم په پام کې نيولي، يعنې هر څه په پټو سترګو نه دي را اخيستل شوي.

موضوعات د رسالې له ټاکلو مفرداتو سره سم څېړل شوي، خو د څېړنې په بهير کې په يو نيم ځای کې د اړتيـا او لـه موضـوع سره پـه تـړاو ځينــې څنگـزن سرليکونـه ور ډېـر شوي هم دي. د نوې څېړنـې لـه آرونـو (Reserch Methodology) سره سـم موضـوعات راساً پيل شوي، هېڅ ډول بې ځايه او بې اړتيا خبرو، مقدمو او توضېحاتو تـه اهميـت نـه دی ورکړل شوی.

**د مأخذونو پېژندنه**

ددې اثر د ټاکلو موضـوعاتو د څېړنـې او بشـپړونې لپـاره لـه انگرېـزي، اردو، دري يـا پارسي او پښتو آثارو څخه گټه اخيستل شوې ده.

پـه انگرېـزي آثـارو کـې د کېنـت کاسـتنر(The Languages of the world)، د کوليو.پي.مســيکا (The Indo-Aryan Languages)، د رونالډسســيکس او پــاول کيــوبرلی (The Slavic Lnguages)، د نــاروېژي ختيځپــوه پروفيســور مورگنســټېرن (Report on a Linguistic mission to north-western india) د مارټين.جی.بـال او نيکول ميولر(The Celtic Languaes) او ځينې نور آثار شامل دي.

د اندو- اروپايي ژبکورنۍ د (آريک) ژبښاخ د (اندو-آريايي) څانگې، يـا پـه بلـه وينـا د هندي ژبو د څېړنې په اړه ډېره گټه له هغو مأخذونو څخـه اخيسـتل شـوې، چـې پخپلـه هندوستاني ژبپوهانو او ليکوالـو پـه اردو ژبـه لـيکلي دي. پـه دې برخـه کـې د پروفيسر-گيان چند جين (عام لسانيات)، د سُونيتي کومار چيټرجـي (هنـدآريايی اور هنـدی)، د محی الدين قادري زور (هندوستانی لسـانيات)، د سـيد احتشـام حسـين (هندوسـتاني لسانيات کاخاکہ) او ځينې نور آثار د يادونې وړ دي.

په دري يا پارسي مأخذونو کې ډېـره تکيـه لـه نـورو ژبـو څخـه دري يـا پـارسي تـه پـه راژباړل شويو آثارو شوې، چې د روسي ليکـوال ميخـايلويچ ارانسـکي (مقدمـه فقـه اللغـه ايراني) او (زبان های ايرانی)، د روديگر شميت (راهنمای زبان های ايرانی) او د ميشـل مالرب (زبانهای مردم جهان) آثار پکې شامل دي.

په پښتو ژبه د ليکل شويو مأخذونو په لړ کـې مـو د اروانبـاد دوسـت شـينواري لـه (د افغانستان ژبې او توکمونه) اثر او د (آريانا دايرة المعارف) د دويـم دور د بېلابېلـو ټوکونـو

له ځینو مقالو څخه ګټه اخیستې ده.

اندو- اروپایي ژبې یوه ډېره پراخه موضوع ده، د نړۍ په نورو ژبو کې د دې ژبکورنۍ پر هر ژبښاخ او د هر ژبښاخ پر هره څانګه جلا جلا ډېرې څېړنې شوې، له همدې امله د دغو ژبو په اړه ډېرې معلوماتي سرچینې هم په باندنیو ژبو کې دي او د افغانستان په څېر هېواد کې دغو سرچینو ته لاسرسی هم اسان کار نه دی، خو له دې سره سره ما ددې څېړنیز اثر د لیکلو لپاره له بېلابېلو هېوادونو څخه هم پخپله او هم د ځینو دوستانو په مرسته ګڼ معتبر علمي- څېړنیز آثار راپیدا کړي او دا علمي رساله مې ترې بشپړه کړې ده.

زه دا منم هغه ډول چې په نورو ژبو او نورې نړۍ کې پر دغو ژبو کار شوی، ښایي زما څېړنه به په هغه کچ نه وي، خو د خپلو شونتیاوو، وس او توان په کچ مې تر وروستې بریده هڅه کړې، چې ددې رسالې ټاکلي موضوعات په ښه ډول وڅېړم.

له دې امله چې ټولنیز مسایل تل د ټولنې له سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي پرمختګونو او حالاتو سره د بدلون په حال کې وي، نو په ټولنیزو علومو کې هېڅ څېړنه بشپړه او وروستۍ نه وي؛ همدغه آر ته په کتو به زما دا څېړنه هم وروستۍ او بشپړه نه وي، ځکه دا یوه انساني هڅه ده او انسانان تل د بریالیتوبونو په لټه کې له تېروتنو سره هم مخامخ کېږي، خو زما د معلوماتو پر بنسټ د اندو- اروپایي ژبو په اړه لږ تر لږه تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې بله داسې علمي او هر اړخیزه څېړنه نه ده شوې. زه هیله من یم چې زما دا خواري د پښتو ژبې، ادب، فرهنګ او په ځانګړي ډول د پښتو ژبپوهنې په وده او پیاوړتیا کې ګټور رول ولوبوي او د اندو- اروپایي ژبو د څېړنې په برخه کې له مینه والو سره مرسته وکړي.

که څه هم ددې څېړنې ځانګړې موخه د اندو- اروپایي ژبو نَسبي څېړنه ده، یعنې په ژبو پورې اړوند یوازې ژبپوهنیز مسایل باید پکې وڅېړل شي، خو له دې امله چې په پښتو ژبه کې د دغو ژبو په اړه معلومات ډېر لږ دي، د هرې ژبې په څېړنه کې مې پر ژبني اړخ سربېره لږ و ډېر د ژبو ادبپوهنیز اړخ هم څېړلی، یعنې د ژبو پر لیکني ادب هم غږېدلی یم.

په پـای کـې زه ددې علمـي- څېړنيـزې رسـالې لـه لارښـود اسـتاد ښـاغلي څېړنپـوه مولاجان تڼيوال څخه د زړه له تله مننـه کـوم، چـې دا رسـاله يـې ځـو ځلـه ولوسـته او د اصلاح او سمون لپاره يې راسره خپلې لارښوونې، نظريـې، وړانديزونـه او نېکـې مشـورې شريکې کړې، کور يې اباد، خدای دې خوشحاله لري.